د افغانستان اسلامی دولت

د عدلیې وزارت


# رسمی جریده


شماره اول ۳۱ سنبله ۱۳۷۳

نمبر مسلسل - ۷۶۸


## درین شماره


- فرمان شماره (۱۰۵) مورخ ۱۳۷۲/۲/۲۷ پیرامون تصحیح فرمان (۹۶) مورخ ۱۳۷۱/۷/۲۱ رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان صفحه (۱).

- ضمیمهٔ شماره سوم قانون حقوق و امتیازات مجروحین، معلولین، مفقودین و بازماندگان شهدا صفحه (۲).



مدیرمسوول: حبیب الله (راوی)

معاون : نور علم

مهتمم : محمد صادق

تیلفون : ۲۶٤۳۱

بسم الله الرحمن الرحیم

## دافغانستان داسلامی دولت

## دجمهور رئیس فرمان

گڼه ۱۰۵
نیټه ۱۳۷۲/۲/۲۷

دافغانستان داسلامی دولت د جمهور رئیس (۲۱/۷/۷۱) نیټی د (۹۶) فرمان د تصحیح په هکله.

دافغانستان د اسلامی اردو په صفوفو کی د مجاهدینو او نورځوانانو د خپلی خوښی خدمت ته جذب او انسجام د طرزالعمل څلورمی مادی په (۷) فقره کی د عسکری جزاء د اصولنامی تصحیح په د عسکری جرایمو قانون چه د افغانستان د اسلامی دولت جمهور رئیس (۲۱/۷/۱۳۷۱) نیټی (۹۶) گڼی فرمان په موجب نافذ شوید ی د ذکر شوی فرمان د انفاذ له نیټی څخه اعتبار لری ،منظور دی.

پروفیسور برهان الدین ربانی

دافغانستان داسلامی دولت جمهور رئیس

بسم الله الرحمن الرحیم

## فرمان رئیس دولت اسلامی افغانستان

شماره (۱۰۵)

تاریخ ۱۳۷۲/۲/۲۷

پیرامون به تصحیح فرمان (۹۶) مورخ ۱۳۷۱/۷/۲۱ رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان.

تصحیح کلمه اصولنامه جزای عسکری به قانون جرایم عسکری در فقره (۷) ماده چهارم طرزالعمل جذب وانسجام مجاهدین و سایرجوانان بخدمت داوطلبانه در صفوف اردوی اسلامی افغانستان بموجب فرمان شماره (۹۶) مورخ ۱۳۷۱/۷/۲۱ رئیس دولت اسلامی افغانستان نافذ گردیده است اعتبار ازتاریخ انفاذ فرمان مذکور منظور است.

پروفیسور برهان الدین ربانی

رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان د اسلامي دولت

د رئيس فرمان

ګڼه ١٧٢

نېټه ١٣٧٢/٣/٣٠

د ټپيانو، معلولينو، ورك شويو او د شهيدانو د پاتې كسانو د حقوقو او امتيازونو د قانون د دريمې ګڼې ضميمې د توشيح په هكله

د معلولينو او شهيدانو د چارو د وزارت د ١٨/٣/٧٢ نېټې د (١٦) ګڼې پيشنهاد پر بنسټ او د افغانستان د اسلامي انقلاب د معلولينو او شهيدانو د حقوقو د تثبيت او وركړې په منظور د ټپيانو، معلولينو، ورك شويو او شهيدانو د پاتې كسانو د قانون دريمه ګڼه ضميمه په پنځو فصلونو او دري دېرش مادو كې توشيح كوم.

د دغه ضميمه د توشيح له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده كې دې خپره شي.

پروفيسور برهان الدين (رباني)

د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئيس

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان رئيس دولت اسلامي افغانستان

شماره ١٧٢

تاريخ ١٣٧٢/٣/٣٠

درباره توشيح ضميمه شماره سوم قانون حقوق و امتيازات مجروحين، معلولين، مفقودين و بازماندگان شهدا

باساس پيشنهاد شماره (١٦) مورخ ١٣٧٢/٣/١٨ وزارت امور شهدا و معلولين و بمنظور تثبيت و تاديه حقوق شهدا و معلولين انقلاب اسلامي افغانستان ضميمه شماره سوم قانون حقوق و امتيازات مجروحين، معلولين، مفقودين و بازماندگان شهدا را بداخل پنج فصل و سي و سه ماده توشيح ميدارم.

اين ضميمه از تاريخ توشيح نافذ و در جريده رسمي نشر گردد.

پروفيسور برهان الدين (رباني)

رئيس جمهور دولت اسلامي افغانستان

د ټپیانو معلولینو او د شهیدانو د پاتی کسانو د حقوقو او امتیازونو د قانون دریمه گڼه ضمیمه

## لومړی فصل

### عمومی حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه ضمیمه د هغو اشخاصو د امتیازونو او حقوقو د تأمین او برابرولو په منظور چی د ۱۳۵۷ کال د ثور د اووم نیټی څخه تر ۱۳۷۱ د ثور د اتمی نیټی پوری د وطن د دفاع او جهاد په لاره کی ټپی معلول او یا ورك شوی دی او د هغو اشخاصو پاتی کسانو ته چی په دی لاره کی په شهادت رسیدلی دی وضع شوی دی .

**دوهمه ماده :**

په لاندی حالاتو کی هغه اشخاص چه د وطن د دفاع او جهاد په لاره کی ټپی معلول، ورك یا شهید شوی دی خپله او یا پاتی کسان ئی د دی ضمیمی له درج شویو حقوقو او امتیازنو څخه گټه اخیستلی شی :

۱ــ د جگړ ځیزو دندو اجراء کول .

ضمیمه شماره سوم قانون حقوق و امتیازات مجروحین ، معلولین وبازماندگان شهدا

## فصل اول

### احکام عمومی

**ماده اول :**

این ضمیمه بمنظور تنظیم و تأمین حقوق و امتیازات اشخاصیکه از ۷ ثور ۱۳۵۷ الی ۸ ثور ۱۳۷۱ در راه جهاد و دفاع از وطن مجروح ، معلول و یا مفقود گردیده وبازماندگان اشخاصیکه درین راه به شهادت رسیده اند وضع گردیده است .

**ماده دوم :**

در احوال اتی اشخاصیکه در راه جهاد و دفاع از وطن مجروح ، معلول مفقود الاثر یا شهید گردیده اند خود و یا بازماندگان انها از حقوق و امتیازات مندرج این ضمیمه مستفید میگردند :

۱ــ اجرای وظایف محاربوی .

۲ـ د نابېره حوادثو واقع کېدل ·
د نابېره حوادثو واقع کېدل د دې ـ
ضمیمې په مقصد عبارت دي له
راکټي ،هوائي حملو د ثقیله سلاح
ګانو فیرونه ،د مینونو انفجار او ـ
مسمومیتونه ·

۳ـ د جهادي دندو د اجراء په
اړوند د شخص ترور او ورکېدل ·

## دریمه ماده :

هغه اشخاص چه د وطن د جهاد او
دفاع په لار کې ټپي ،معلول ، ورک
او یا شهید شوي وي پهلاندې ـ
کټګوریو کې شامل دي :

۱ـ د هیواد د اسلامي تحریک متفکرین
مخکښان او رهبران ·
۲ـ په مخامخ جګړه کې نبکیل ـ
مشهور جهادي قوماندانان ·
۳ـ جهادي قوماندانان ·
٤ـ سرګروپان ·
٥ـ نور مجاهدین ·

## څلورمه ماده :

هغه شخص د رهبر او د اسلامي
تحریک د مخکښ په توګه پېژندل
کېږي چه د لاندې صفتونو درلود ـ
ونکي وي :

۲ـ وقوع حوادث غیر مترقبه ·
بمقصد این ضمیمه عبارت است از حملات
راکتی ،هوائی فیرهای سلاح ـ
های ثقیله ، انفجار مین ها و ـ
مسمومیت ها ·

۳ـ مفقودیت و ترور شخص به ارتباط
اجرای وظایف جهادی ·

## ماده سوم :

اشخاصیکه در راه جهاد و دفاع از ـ
وطن مجروح ،معلول ،مفقود الاثر و
یا شهید گردیده اند شامل کتگوری
های ذیل میباشد :

۱ـ رهبران ،پیشتازان و متفکرین
تحریک اسلامی کشور ·
۲ـ قوماندانان مشهور جهادی و ـ
درگیر در جنگهای رویاروی ·
۳ـ قوماندانان جهادی
٤ـ سرگروپها ·
٥ـ سایر مجاهدین ·

## ماده چهارم :

شخصی بحیث رهبر و پیشتاز تحریک
اسلامی شناخته میشود که دارای ـ
اوصاف ذیل باشد :

١- د (١٥) کلونو څخه زيات د اسلامي تحريک د رهبرۍ سابقه .

٢- په يو د جهادي عمده تنظيمونوکي غړيتوب .

٣- لږ تر لږه د (٤) اسلامي مطبوع او يا غير مطبوع اثرونو درلودل او يا لږ تر لږه د اته علمي رسالو ليکل په يوه کورني يا بهرني خپرونوکې .

٤- په جګړه کې فعاله ونډه اخيستل او يا د هغه بندي کيدل د جهادي او اسلامي فعاليتونو په علت .

٥- لږ تر لږه د مجاهدينو د (١٠/٠٠٠) لس زره کسيزې ډلې رهبري .

٦- لږ تر لږه د (٥) کسو نږدې خپلوانو شهادت او معلوليت .

پنځمه ماده :

هغه شخص په مخامخ جګړوکې تشکيل د مشهور جهادي قوماندان په توګه پيژندل کيږي چه د لاندې صفتونو درلودونکي وي :

١- په يو د عمده جهادي تنظيمونوکې غړيتوب .

١- سابقه رهبري تحريک اسلامي بيش از (١٥) سال .

٢- عضويت در يکي از تنظيم هاي عمده جهادي .

٣- داشتن حد اقل (٤) اثر مطبوع و يا غير مطبوع اسلامي و يا تحرير حد اقل هشت رساله علمي در يکي از نشرات داخلي يا خارجي .

٤- سهم فعال در محاربه و يا محبوس شدن ان بنا بر فعاليت هاي اسلامي و جهادي .

٥- رهبري حد اقل دسته/١٠٠٠٠ ده هزار نفري مجاهدين .

٦- معلوليت يا شهادت حد اقل (٥) نفر از اقارب نزديک .

ماده پنجم :

شخصي بحيث قوماندان مشهور جهادي درگير در جنگهاي رويا روي شناخته ميشود که داراي اوصاف ذيل باشد :

١- عضويت در يکي از تنظيم هاي عمده جهادي .

۲ـ د (۱۳) کالو څخه زیات په جهادی فعالیتونوکی سابقه درلودل .

۳ـ لږترلږه د مجاهد ینود (۷۰۰۰) او وزره کسیزی پولی سوق او اداره کول .

٤ـ د مجاهد ینو سوق او اداره د روسانو سره په مستقیمی او مخامخ جګړه ئی فعالیتونو کی .

٥ـ لږ تر لږه د (٤) کسو نږدی خپلوانو شهادت او یا معلولیت .

٦ـ لږ تر لږه یو له مرکزی عده د ولتی ادارو فتح کول او د هغه ساتل .

اداری عده مرکز ... د دی ضمیمی په مقصد عبارت ... له ولسوالی ، ښار او ولایت څخه دی .

شپږمه ماده :

هغه شخص د جهادی قوماندان په توګه پیژند ل کیږی چه د لاندینیو صفتونو د رلود ونکی وی :

۱ـ په جهادی تنظیمونوکی غړیتوب

۲ـ د (۱۲) کالو څخه زیات په جهادی فعالیت کی سابقه لرل .

۳ ـ لږ تر لږه د مجاهد ینود/ ۱۰۰۰ زر کسیزی پولی سوق او اداره .

۲ـ سابقه فعالیتهای جهادی بیش از (۱۳) سال .

۳ـ سوق و اداره حد اقل د سته (۷۰۰۰) هفت هزار نفری مجاهد ین.

٤ـ سوق و اداره مجاهد ین در فعالیتهای محاربوی رویا روی و مستقیم با روس ها .

٥ـ معلولیت یا شهادت حد اقل (٤) نفر از اقارب نزد یک .

٦ـ حد اقل فتح یکی از مراکز عده اداری د ولتی و حفظ ان .

مرکز عده اداری به مقصد این ضمیمه عبارت از ولسوالی ، شهر و ولایت میباشد .

ماده ششم :

شخصی بحیث قوماندان جهادی شناخته میشود که دارای اوصاف ذیل باشد :

۱ـ عضویت در یکی از تنظیم های جهادی .

۲ـ سابقه فعالیت جهادی بیش از (۱۲) سال .

۳ـ سوق و اداره حداقل د سته (۱۰۰۰) هزار نفرم مجاهد ین .

٤ـ لږ تر لږه (٢) تنو نږدې خپلوانو شهادت يا معلوليت.

٥ ـ لږ تر لږه د يوې علاقه دارۍ ـ فتح کول او د هغه ساتل.

اوومه ماده :

هغه شخص د سر گروپ په توگه پیژندل کیږي چه د لاندینو صفتونو رلرونکی وي :

١ـ په يوه عمده جهادي تنظيمونو کې غړيتوب.

٢ـ له (١٠) کلونو څخه زيات په جهادي فعاليتونو کې سابقه لرل.

٣ـ لږ تر لږه د مجاهدينو د (١٥٠) کسيزي ډلې سوق او اداره.

٤ـ په جگړه ئيزو فعاليتونو کې د مجاهدينو سوق او اداره.

٥ـ لږ تر لږه د دوه پوستو فتح او د هغه ساتل.

٤ـ معلوليت يا شهادت حد اقل (٢) نفر از اقارب نزديک.

٥ـ حد اقل فتح يکی از علاقه داری ها و حفظ آن.

ماده هفتم :

شخصی بحيث سر گروپ شناخته ميشود که دارای اوصاف ذيل باشد :

١ـ عضويت يکی از تنظيم های عمده جهادی.

٢ـ سابقه فعاليت های جهادی ـ بيش از (١٠) سال.

٣ ـ سوق واداره حد اقل دسته (١٥٠) يکصد و پنجاه نفری مجاهدين.

٤ـ سوق واداره مجاهدين در فعاليت های محاربوی.

٥ـ حد اقل فتح دو پوسته وحفظ آن.

## د وهم فصل

### د ټپیانو او معلولینو حقوق او امتیازونه

اتمه ماده :

د ټپیانو او معلولینو تداوی د قانون د حکمونو په سمون په وړیا توګه تر سره کیږی .

نهمه ماده :

ټپیان د اړوند روغتون په تائید د جوړید و یا د معلولیت د تثبیت تر وخته پوری په یو له هغه هوسا ځایونو کی چه د معلولینو او شهیدانو د چارو د وزارت لخوا جوړیږی اعاشه او اباطه کیږی .

لسمه ماده :

(١) ټپیان له تداوی او یا د صحی معاینا تو او د مراقبت د دوری له تیرید و وروسته د نظر د ځرګند ولو لپاره د معلولیت د تثبیتولو صحی کمیسیون ته وړپیژندل کیږی .

(٢) د معلولیت د درجی تثبیت د ټپیانو ، معلولینو او د شهیدانو د پاتی کسانو د حقوقو او امتیازاتو د قانون د حکمونو سره سم صورت نیسی .

## فصل دوم

### حقوق و امتیازات مجروحین ومعلولین

ماده هشتم :

تداوی مجروحین و معلولین طبق احکام قانون مجانی صورت میگیرد .

ماده نهم :

مجروحین الی زمان صحت یابی یا تثبیت معلولیت به تائید شفاخانه مربوط در یکی از آسایشگاه هائیکه از طرف وزارت امور شهدا و معلولین اماده میشود اعاشه و اباطه میگردند

ماده دهم :

(١) مجروحین بعد از تداوی و یا سپری نمودن دوره مراقبت و معاینات صحی جهت ابراز نظر به کمیسیون صحی تثبیت معلولیت معرفی میگردند .

(٢) تثبیت درجه معلولیت طبق احکام قانون حقوق و امتیازات مجروحین ، معلولین و بازماندگان شهدا صورت میگیرد .

یوولسمه ماده :

دایمی او قسمی معلولین په لاندی ترتیب سره د معاش مستحق پیژندل کیږی چه د شهیدانو او معلولینو د چارو د وزارت له خوا ورکول کیږی :

١- د اسلامی تحریک د متفکرینو ، مخکښانو او رهبرانو له پاره د میاشتی (٢٥٠٠٠) زره افغانی .

٢- د جهادی مشهورو قوماندانانو له پاره د میاشتی (٢٠٠٠٠) شل زره افغانی .

٣- د جهادی قوماندانانو له پاره د میاشتی (١٥٠٠٠) پنځلس زره افغانی

٤- د سرگروپانو له پاره د میاشتی (١٠٠٠٠) لس زره افغانی .

٥- د نورو مجاهدینو له پاره د میاشتی (٨٠٠٠) اته زره افغانی .

دولسمه ماده :

(١) هغه اشخاص چه قسمی دایمی معلول ثبیت شی د هغوی د غوښتنی په اثر د کار او ټولنیزو چارو وزارت مکلف دی چه هغوی ته د کار زمینه برابره کړی .

ماده یازدهم :

معلولین قسمی و دایمی به ترتیب ذیل مستحق معاش شناخته شده که از طرف وزارت امور شهدا و معلولین پرداخته میشود :

١- برای رهبران ، پیشتازان ومتفکرین تحریک اسلامی ماهانه مبلغ (٢٥٠٠٠) هزار افغانی .

٢- برای قوماندانان مشهور جهادی ماهانه مبلغ (٢٠٠٠٠) بیست هزار افغانی .

٣- برای قوماندانان جهادی ماهانه مبلغ (١٥٠٠٠) پانزده هزار افغانی .

٤- برای سرگروپها ماهانه مبلغ (١٠٠٠٠) ده هزار افغانی .

٥- برای سایر مجاهدین ماهانه مبلغ (٨٠٠٠) هشت هزار افغانی .

ماده دوازدهم :

(١) اشخاصیکه معلول قسمی دایمی تثبیت گردند در اثر تقاضای انها وزارت کار و امور اجتماعی مکلف است زمینه کار را برایشان مساعد سازد .

(۲) وزارتونه ، ادارې ، تصدۍ گانې د ولتي او مختلطې موسسې مکلفې دي چه دا يمي قسمي معلولين د سهمې سره برابر چه د کار او ټولنيزو چارو د وزارت لخوا تثبيتيږي د اړوند ، قوانينو د حکمونو په مطابق کار ته جذب او مقرر کړي .

د يارلسمه ماده :

هغه شخص چه د دې ضميمې د احکامو د په نظر کې نيولو سره سم د وارد شوو ټپونو او صدمو په نتيجه کې د معلوليت د تثبيت د کميسيون له لارې دايمي کلي معلول تثبيت شي د هغه له پاره معلوليت حقوق په لاندې ډول ورکول کيږي :

۱ـ د اسلامي تحريک د متفکرينو ، مخکښانو او رهبرانو له پاره د مياشتې پنځه ويشت زره افغانۍ .

۲ـ مشهورو جهادي قوماندانانو له پاره د مياشتې (۲۰۰۰۰) شل زره افغانۍ .

۳ـ د جهادي قوماندانانو له پاره د مياشتې (۱۵۰۰۰) پنځلس زره افغانۍ .

(۲) وزارتها ، ادارات ، تصدیها موسسات دولتی و مختلط مکلف اند معلولین قسمی دایمی را مطابق سهمیه که از طرف وزارت کار و امور اجتماعی تثبیت میگردد مطابق احکام قوانین مربوط بکار جذب و مقرر نماید .

ماده سیزدهم :

شخصیکه با درنظر داشت احکام این ضمیمه در نتیجه جراحات یا صدمات وارده از طریق کمیسیون تثبیت معلولیت معلول کلی دایمی تثبیت گردد برای وی حقوق ناشی از معلولیت قرار ذیل پرداخته میشود :

۱ـ برای رهبران ، پیشتازان و متفکرین تحریک اسلامی ماهانه مبلغ بیست و پنج هزار افغانی .

۲ـ برای قوماندانان مشهور جهادی ماهانه مبلغ (۲۰۰۰۰) بیست هزار افغانی .

۳ـ برای قوماندانان جهادی ماهانه مبلغ (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی .

٤ـ د سرګروپانو له پاره د میاشتنی
(١٠٠٠٠) لس زره افغانی ٠

٥ـ د نورو مجاهدینو له پاره د
میاشتی ( ٨٠٠٠ ) اته زره افغانی ٠

څوارلسمه ماده :

که چیری قسمی کلی معلول د کار
ارزو ولری د معلولیت د تثبیت د
صحی کمیسونو د تصدیق پر بنسټ
د کار د استعداد او توان مطابق د
استخدام کوونکی مراجعو د لیکلی
موافقی په نظر کی نیولو سره د هغوی
د مقرری په بنا مناسب کارته ګمارل
کیږی ٠ په دی صورت کی قسمی کلی
معلول د معلولیت د تقاعد د حقوقو
بر سیره د وروستی کار د اجراء په
مقابل کی د معین مزد مستحق کیږی
د دی کتګوری د اشخاصو له وروستی
معاش نه د تقاعد فیصدی نه وضع کیږی
او هم د دندی له پای ته رسیدو نه
وروسته د وروستی تقاعد د حقوقو
مستحق نه کیږی ٠

پنځلسمه ماده :

دایمی او قسمی کلی معلول د دولت

٤ـ برای سرګروپ ها ماهانه مبلغ
(١٠٠٠٠) ده هزار افغانی.

٥ـ برای سایر مجاهدین ماهانه
مبلغ ( ٨٠٠٠ ) هشت هزار افغانی.

ماده چهاردهم :

هرګاه معلول کلی قسمی ارزوی
کار را داشته باشد باساس
تصدیق کمیسون های صحی تثبیت
معلولیت مطابق قدرت و
استعداد کار با نظر داشت
موافقه کتبی مراجع استخدام
کننده مبنی بر تقرر انها بکار
مناسب ګماشته میشوند ٠
درین صورت معلول کلی قسمی علاوه
بر حقوق تقاعد معلولیت در برابر
اجرای کار بعدی مستحق مزد
معینه میباشد ٠ از معاش بعدی
این کتګوری اشخاص فیصدی
تقاعد وضع نګردیده و هم بعد
از ختم وظیفه مستحق حقوق
تقاعد بعدی نمی باشد ٠

ماده پانزدهم :

معلول کلی قسمی و دایمی
مستحق

# رسمی جریده

د کارکوونکو د یو جلد کوپون د لاس ته راوړلو مستحق دی په دی شرط چه په رسمی کار کی شامل نه وی ، که چیری په رسمی کار کی شامل شی کوپون د — وروستی کار د سر ته رسولو په مقابل کی د استخدام کوونکی مرجع لخوا ، — اجراء کیږی ۰

دریافت یک جلد کوپون کارکنان دولت بود ، مشروط براینکه شامل کار رسمی نباشد هرگاه ، شامل کار رسمی گرد — کوپون در برابر انجام کار بعدی ازطرف مرجع استخدام کنند ، اجراء میگردد ۰

شپاړلسمه ماده :

( ۱ ) د معلولیت حقوق د تپیانو ، معلولینو او د شهیدانو د پاتی کسانو د حقوقو او امتیازاتو د قانون په درج شوی احوالو کی قطع کیږی ۰

(۲) که چیری معلول مړ شی د تقاعد حقوق د متوفی د برخی د وضع کیدو پر ته په برابر ډول د هغه د پاتی کسانو تر منځ ویشل کیږی ۰

( ۳ ) د متوفی معلول د پاتی کسانو له پاره د دولت د کارکوونکو صرف یو جلد کوپون ورکول کیږی ۰

ماده شانزدهم :

( ۱ ) حقوق معلولیت در احوال مندرج در قانون حقوق و امتیازات مجروحین معلولین و باز ماندگان شهدا قطع — میگردد ۰

( ۲ ) هرگاه معلول فوت نماید حقوق تقاعد بدون وضع سهم متوفی مساویانه بین باز ماندگان وی تقسیم میشود ۰

( ۳ ) برای بازماندگان معلول متوفی صرف یک جلد کوپون کارکنان دولت داده میشود ۰

دریم فصل :

د شهیدانو پاتې کسانو او ورک شویو حقوق او امتیازات .

اوه لسمه ماده :

د دې ضمیمې په دریمې مادې کې د مندرجو اشخاصو د پاتې شویو کسانو امتیازات او حقوق په لاندې ترتیب سره ورکول کیږي :

۱ـ د دریمې مادې د (۱) فقرې د مندرجو اشخاصو د پاتې کسانو لپاره د میاشتې دیرش زره افغانۍ .

۲ـ د دریمې مادې د (۲) فقرې د مندرجو اشخاصو د پاتې شویو کسانو له پاره د میاشتې پنځه ویشت زره افغانۍ.

۳ـ د دریمې مادې د (۳) فقرې د مندرجو اشخاصو د پاتې شویو کسانو له پاره د میاشتې شل زره افغانۍ .

۴ـ د دریمې مادې د (۴) فقرې د مندرجو اشخاصو د پاتې شویو کسانو له پاره د میاشتې پنځلس زره افغانۍ

فصل سوم :

حقوق و امتیازات بازماندگان شهدا و مفقودین .

ماده هفدهم :

حقوق و امتیازات بازماندگان اشخاص مندرج ماده سوم این ضمیمه به ترتیب ذیل پرداخته میشود :

۱ـ برای بازماندگان اشخاص مندرج فقره (۱) ماده (۳) ماهانه مبلغ سی هزار افغانی .

۲ـ برای بازماندگان اشخاص مندرج فقره (۲) ماده (۳) ماهانه مبلغ بیست وپنج هزار افغانی .

۳ـ برای بازماندگان اشخاص مندرج فقره (۳) ماده (۳) ماهانه مبلغ بیست هزار افغانی .

۴ـ برای بازماندگان اشخاص مندرج فقره (۴) ماده (۳) ماهانه مبلغ پانزده هزار افغانی

۵ـ د د ریمی مادی د (۵) فقری د ـ
مندرجو اشخاصو د پاتی‌شویو کسانو
له پاره د میاشتی لسرزره افغانی ۰

اته لسمه ماده :
د تقاعد حقوق د شهید د برخی له
وضع کیدو نه پرته په مساوی ډول د ـ
پاتی‌کسانو تر منځ ویشل کیږی ۰

نو لسمه ماده :
(۱) د شهید پاتی کسان یا هغه
شهیدان چه مجرد وی په مجموع کی
د دولت د کارکوونکو د یوجلد کوپون
خته گټه اخیستلی شی مگر دا چی یو
له شهیدانو یا زیات له هغه نه متاهل
وی ۰
(۲) د شهید پاتی کسان یا هغه
شهیدان چی متاهل وی د بیلا بیلو
کوپونو د اخستلو مستحق دی ۰
(۳) د شهید د پاتی‌کسانو تثبیت
او نورو حالتونه د هغو احکامو
مطابق چی د ټپیانو ، معلولینو او
شهیدانو د پاتی کسانو د حقوقو
او امتیازاتو په قانون کی پیشبینی
شوی دی صورت نیسی ۰

۵ ـ برای بازماندگان اشخاص مندرج
فقره (۵) ماده (۳) ماهانه
مبلغ ده هزار افغانی ۰

ماده هجدهم :
حقوق تقاعد بدون وضع سهم شهید
مساویانه بین بازماندگان تقسیم
میگردد ۰

ماده نزدهم :
(۱) بازماندگان شهید یا شهدائیکه
مجرد باشند جمعاً از یکجلد کوپون
کارکنان دولت مستفید میگردند مگر
اینکه یکی از شهدا یا بیش از آن متاهل
باشند ۰
(۲) بازماندگان شهید یا شهدائیکه
متاهل باشند مستحق دریافت کوپون
جداگانه میباشد ۰
(۳) تثبیت بازماندگان شهید وسایر
حالات طبق احکام مندرج قانون ـ
حقوق وامتیازات مجروحین ، معلولین
و بازماندگان شهدا پیشبینی شده
است صورت میگیرد ۰

شلمه ماده :

د شهید د پاتې کسانو د تقاعد حقوق د ټپیانو معلولینو او د شهیدانو د پاتې کسانو د حقوقو او امتیازاتو د قانون په مندرجو احوالو کې قطع کیږي .

ماده بیستم :

حقوق تقاعد بازماندگان شهید در احوال مندرج قانون حقوق و امتیازات مجروحین ، معلولین و بازماندگان شهدا قطع میگردد .

یوویشتمه ماده :

هغه شخص چه د دې ضمیمې د دویمې مادې د مندرجو احوالو سره سم ورك شوی وي د تحقیق له بشپړېدو او د اړوند مراجعو له تصدیق وروسته د دې ضمیمې د (۱۷) مادې د حکم سره سم میاشتنی معاش د کوپون د امتیاز سره د ده تر تکفل لاندې اشخاصو ته ورکول کیږي .

ماده بیست و یکم :

شخصیکه در احوال مندرج ماده دوم این ضمیمه مفقود الاثر بود بعد از اکمال تحقیق و تصدیق مراجع مربوط معاش ماهوار طبق حکم ماده (۱۷) این ضمیمه با امتیاز کوپون به اشخاص تحت تکفل وی پرداخته میشود .

دوه ویشتمه ماده :

(۱) که چیری ثابت شی چه ورك شوی شخص اسیر دی د هغه پاتې کسان د اسارت له نیټې څخه د خلاصیدو تر وخته پورې د دې ضمیمې د (۲۱) مادې د مندرجو حقوقو او امتیازاتو مستحق دي .

ماده بیست و دوم :

(۱) هرگاه ثابت گردد که شخص مفقود شده اسیر میباشد بازماندگان وی از تاریخ اسارت الی زمان رهائی مستحق حقوق و امتیازات مندرج ماده (۲۱) این ضمیمه میباشد .

(۲) که چیری ثابت شی چه اسیر یا ورک شخص قصداً غیابت غوره کړی د دی هغه حقوق او امتیاز ونه چه د دی ضمیمی د حکمو نو مطابق د هغه د تکفل — لاندی اشخاصو ته ورکول کیدل د اثبات له نیټی څخه قطع کیږی •

څلورم فصل

د ټپی توب ، معلولیت ورکیدو اسارت او شهادت د تصدیق واکمنی مراجع.

دریشتمه ماده :

د هغو اشخاصو د شهادت تصدیق چه د دی ضمیمی د مندرجو حقوقو او امتیازاتو څخه مستفید کیږی د لاندی نیو مراجعو په واسطه صورت نیسی :

۱/ په علاقه داریو ، ولسوالیو کی د سر گروپ اړوند قوماندان د علاقه داری ، ولسوالی په تائید او د ولایت د مقام او د اړوند تنظیم د باصلاحیته کمیسیون په تائید •

۲/ په ښارونو او ولایتونو کی د سر گروپ اړوند قوماندان په واسطه د ناحیی شاروالی په تائید د ولایت

(۲) هرگاه ثابت گردد که شخص اسیر یا مفقود قصداً غیابت اختیار نموده است حقوق و امتیازاتیکه مطابق احکام این ضمیمه به اشخاص تحت تکفل وی پرداخته میشد از تاریخ اثبات قطع میگردد •

فصل چهارم

مراجع ذیصلاح تصدیق مجروحیت معلولیت ، مفقودیت ، اسارت و شهادت •

ماده بیست و سوم :

تصدیق شهادت اشخاصیکه از حقوق و امتیازات مندرج این ضمیمه مستفید میشوند توسط مراجع ذیل صورت میگیرد :

۱/ در علاقه داری ها ، ولسوالیها توسط سرگروپ ، قوماندان مربوط تائید علاقه داری ، ولسوالی و تائید مقام ولایت و کمیسیون باصلاحیت تنظیم مربوط •

۲/ در شهرها و ولایات توسط سر گروپ ها و قوماندان مربوط تائید ناحیه شاروالی تائید مقام ولایت و کمیسیون.

# رسمی جریده

د مقام او د اړوند تنظیم د باصلاحیته کمیسیون په تائید ·

شلیرویشتمه ماده :

د ورکید و یا اسارت تصدیق د اړوند تنظیمونو په واسطه او د ملی امنیت د لوی ریاست د کشف او تحقیق د ارګانونو په تائید صورت نیسی ·

پنځه ویشتمه ماده :

( ۱ ) د معلولیت تصدیق او د کار د قدرت د کمید و فیصدی د اړوند روغتون د معلولیت د تثبیت د صحی کمیسیون لخوا صورت نیسی ·

( ۲ ) د معلولیت د درجی تثبیت او د کار د قدرت د کمید و فیصدی په ولایاتو کی د ولایتونو د عامی روغتیا د ریاستونو د کمیسیونونو له خوا د عامی روغتیا د وزارت د مرکزی صحی کمیسیون له تائید وروسته او په مرکز کی د عامی روغتیا د وزارت د مرکزی صحی کمیسیون له خوا صورت نیسی ·

با صلاحیت تنظیم مربوط ·

ماده بیست و چهارم :

تصدیق مفقودیت یا اسارت توسط تنظیم های مربوط و تائید ارگان های کشف و تحقیق ریاست عمومی امنیت ملی صورت میگیرد ·

ماده بیست و پنجم :

( ۱ ) تصدیق معلولیت و فیصدی کاهش قدرت کار از طرف کمیسیون صحی تثبیت معلولیت شفاخانه مربوط صورت میگیرد ·

( ۲ ) تثبیت درجه معلولیت و فیصدی کاهش قدرت کار در ولایات از طرف کمیسیون های ریاست های صحت عامه ولایات بعد از تائید کمیسیون صحی مرکزی وزارت صحت عامه و در مرکز از طرف کمیسیون صحی مرکزی وزارت صحت عامه صورت میگیرد ·

شپږ ویشتمه ماده :

(۱) د دی ضمیمی د (۲۳، ۲٤، ۲۵) مواد و مندرجو ارگانونو مسئوولین مکلف دی چه له دقیقی څیړنی وروسته د اشخاصو د شهادت، ورکید و یا اسارت او معلولیت موضوع تصدیق کړی .

(۲) که چیری ترتیب شوی سند ونه د واقعیت په خلاف ثابت شی اړونده مسئوولین د قانون د حکمونو سره سم مجازات کیږی .

ماده بیست و ششم :

(۱) مسئوولین ارگانهای مندرج مواد (۲۳، ۲٤، ۲۵) این ضمیمه مکلف اند بعد از بررسی دقیق موضوع شهادت، مفقودیت یا اسارت ومعلولیت اشخاص را تصدیق نمایند .

(۲) هرگاه اسناد مرتبه خلاف واقعیت ثابت گردد مسوولین مربوط طبق احکام قانون مجازات میشوند .

اووه ویشتمه ماده :

جهادی عمده تنظیمونه د دی ضمیمی په مقصد عبارت دی له :

۱ــ د افغانستان اسلامی جمعیت .

۲ــ د افغانستان د اسلامی انقلاب حرکت .

۳ــ د افغانستان اسلامی اتحاد .

٤ــ د افغانستان د اسلامی حزب (حکمتیار صاحب) .

۵ــ د افغانستان د اسلامی حزب (یونس خالص) .

ماده بیست و هفتم :

تنظیم های عمده جهادی بمقصد این ضمیمه عبارت اند از :

۱ــ جمعیت اسلامی افغانستان .

۲ــ حرکت انقلاب اسلامی افغانستان .

۳ــ اتحاد اسلامی افغانستان .

٤ــ حزب اسلامی افغانستان (حکمتیار صاحب)

۵ــ حزب اسلامی افغانستان (یونس خالص)

٦– د افغانستان اسلامی حرکت
٧– د افغانستان د اسلامی ملی محاذ
٨– د افغانستان د ملی نجات جبهه
٩– د افغانستان د اسلامی وحدت حزب .

## پنځم فصل

## نهائی حکمونه

**اته ویشتمه ماده :**

د معلولینو له پاره د معلولیت معاش او د شهیدانو پاتی شویو کسانو له پاره د تقاعد معاش په مرکز کی د معلولینو او شهیدانو د چارو د وزارت له خوا او په ولایاتو کی د دی وزارت د نمایندګیو یا د مستوفیتونو له لاری ورکول کیږی .

**نه ویشتمه ماده :**

د معلولینو او د شهیدانو پاتی کسانو د تقاعد حقوق د عمومی زیاتوالی په وخت کی متناسباً زیاتیږی .

٦– حرکت اسلامی افغانستان .
٧– محاذ ملی اسلامی افغانستان .
٨– جبهه نجات ملی افغانستان .
٩– حزب وحدت اسلامی افغانستان .

## فصل پنجم

## احکام نهائی

**ماده بیست و هشتم :**

معاش معلولیت برای معلولین و معاش تقاعد برای بازماندگان شهدا در مرکز از طرف وزارت امور شهدا و معلولین و در ولایات از طریق نمایندگی های این وزارت یا مستوفیت ها پرداخته میشود .

**ماده بیست و نهم :**

حقوق تقاعد معلولین و بازماندگان شهدا حین افزودی عمومی متناسباً افزود میگردد .

دیرشمه ماده :

هغه اشخاص چه د ۱۳۷۱ کال د ثور د اتمې نیټې څخه وروسته د راکټ د فیر او یا نورو سلاح گانو په اثر معلول او یا شهید شوي دي د دې ضمیمې او د ټپیانو معلولینو او شهیدانو د پاتې کسانو په قانون کې له مندرجو امتیازونو څخه گټه اخیستلی شي .

یو دیرشمه ماده :

د دې ضمیمې د دیرشمې مادې د مندرجو اشخاصو د معلولیت او شهادت تصدیق د لاندې مراجعو لخوا صورت نیسي :

۱ــ د معلولیت تصدیق په مرکز کې د گذر د وکیل لخوا ، اړونده ناحیې او د عامې روغتیا د وزارت د مرکزي صحي کمیسیون لخوا .

۲ــ د شهادت تصدیق په ولایاتو کې په اړونده ناحیه او کلي کې د ملك او یا د گذر د وکیل لخوا د علاقداري ــ ولسوالۍ او د ولایت د مقام په تائید سره

ماده سی ام :

اشخاصیکه بعد از تاریخ ۸ ثور ۱۳۷۱ بالاثر فیر راکت وسایر سلاح ها معلول و یا شهید شده اند از امتیازات مندرج قانون مجروحین ، معلولین و بازماندگان شهدا و این ضمیمه مستفید میگردند .

ماده سی و یکم :

تصدیق معلولیت و شهادت اشخاص مندرج ماده سی این ضمیمه از طرف مراجع ذیل صورت میگیرد :

۱ــ تصدیق معلولیت در مرکز از طرف وکیل گذر ، ناحیه مربوط و کمیسیون صحی مرکزی وزارت صحت عامه .

۲ــ تصدیق شهادت در ولایات از طرف ملك و یا وکیل گذر در قریه و ناحیه مربوط تائید علاقداری ولسوالی و مقام ولایت .

۳- د شهادت تصدیق په مرکزکی د گذر د وکیل لخوا ما ړوند مناحیی او د ښار والی په تائید سره.

۴- په دیرشمه مادکی مندرج د وسله والو قوا و منسوبینو او د دولت د کار کوونکو د معلولیت او شهادت تصدیق په (۱- ۲- ۳) فقرو کی د مندرجو مراجعو بر سیره د منسوبه قطعی او اړونده ارگانو نو لخوا صورت نیسی.

دوه دیرشمه ماده:

(۱) جهادی تنظیمونه مکلف دی هغه مالی وجوه چه د شهادت او معلولیت د حقوقو د ورکړی له پاره پحواك کی لری د شهیدانو او معلولینو او مهاجرینو د چارود وزارت اړوند حساب ته انتقال کړی.

(۲) د دی ضمیمی په انفاذ سره د هغو شهیدانو د ورثی او معلولینو حقوق چه مخکی د جهادی تنظیمونو لخوا ورکول کیدل قطع کیږی.

دری دیرشمه ماده:

د غه ضمیمه د جمهوررئیس له توشیح و رو ستنافذه او په رسمی جریده کی د ی خپره شی.

۳- تصدیق شهادت در مرکز ازطرف وکیل گذر ناحیه مربوط و تائید شاروالی.

۴- تصدیق معلولیت و شهادت منسوبین قوای مسلح و کارکنان دولت مندرج ماده (۳۰) بر علاوه مراجع مندرج فقرات (۱-۲-۳) این ماده ازطرف قطعه منسوبه وارگانهای مربوط نیز صورت میگیرد.

ماده سی و دوم:

(۱) تنظیم های جهادی مکلف اند وجوه مالی را که غرض پرداخت حقوق شهادت و معلولیت در اختیار دارند بحساب مربوط وزارت امور شهدا و معلولین ومهاجرین انتقال دهند.

(۲) باانفاذ این ضمیمه حقوق معلولین وورثه شهدا ئیکه قبلاً از طریق تنظیم های جهادی مربوط پرداخته میشود قطع میگردد.

ماده سی و سوم:

این ضمیمه بعداز توشیح رئیس جمهور نافذ و در جریده رسمی نشر گردد.

د افغانستان د اسلامی دولت
د رئیس فرمان

گڼه ۳۹۹
نیټه ۱۳۷۲/۶/۲۲

د دولتی مقاماتو د معاشاتو د قانون د دویمې مادې د (د) د جزء د – تعدیل په هکله چه د ۱۳۶۷ کال د میزان د ۲۹ نیټې پر له پسې (۶۷۶) (۱۴) گڼې رسمی جریده کې خپور شوی دی.

لمړۍ ماده:
د د جزء د دولتی مقاماتو د معاشاتو د قانون د دویمې مادې د (د) جزء چه د ۱۳۶۷ کال د میزان د ۲۹ نیټې پر له پسې (۶۷۶) – (څوارلسمه) گڼه رسمی جریده کې خپور شوی په لاندې ډول دی – تعدیل شی:

د:

۱– قاضی القضات ۶

۲– د قاضی القضات مرستیال.

فرمان رئیس دولت
اسلامی افغانستان

شماره ۳۹۹
تاریخ ۱۳۷۲/۶/۲۲

در مورد تعدیل جزء (د) ماده دوم قانون معاشات مقامات دولتی منتشره جریده رسمی شماره (۱۴) مسلسل (۶۷۶) مورخ ۲۹ میزان سال ۱۳۶۷

ماده اول:
جزء د – ماده دوم قانون معاشات مقامات عالی دولتی منتشره جریده رسمی شماره (چاردهم) مسلسل (۶۷۶) مورخ ۲۹ میزان سال ۱۳۶۷ قرار ذیل تعدیل گردد:

د:

۱– قاضی القضات ۶

۲– معاونان قاضی القضات.

۳ــ د ستری محکمی غړی چه د دیوانونو د ریاست عهده لری (٤)

٤ــ د ستری محکمی غړی (۳)

دویمه ماده :

دغه تعدیل د توشیح له نیټی نافذ دی او په رسمی جریده کی دی خپور شی .

پروفیسور برهان الدین ربانی
دافغانستان د اسلامی دولت جمهور رئیس

۳ــ اعضای ستره محکمه که ریاست دیوان ها را به عهده دارند (٤)

٤ ــ اعضای ستره محکمه (۳)

ماده دوم :

این تعدیل از تاریخ توشیح نافذ بوده در جریده رسمی نشر گردد .

پروفیسور برهان الدین ربانی
رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان

اشتراك سالانه

داخل کشور ۱۰۰۰ افغانی

خارج کشور ۵۰ دالر امریکایی

محصلین با ارائه تصدیق ۵۰۰ افغانی

بهای یک شماره (۴۰۰) افغانی

# ISLAMIC STATE OF AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE
# OFFICIAL GAZETTE

Editor: Habibullah Rawy
Assistant Editor: Nooralm
Issue: No:768
Date: Sept.22,1994

دولتی مطبعه

د چاپ شمیر (۵۰۰) توکه